سلطان جان کلیوال
۲۰۱۹/۰۸/۰۸

# د وطن د آزادۍ د سلمی کلیزی په ویاړ

## د آزادۍ پرېښتې!

د آزادۍ پرېښتې، که بیا راتلی زمونږ وطن ته کله!
قهر و غضب سره به نه راځی، په مینه راشه
هسی خو نه راځی له مونږ، زمونږ سرونه غواړی
له مونږه وینه غواړی، ژوند غواړی هډونه غواړی
نوکه راځی! کرکي نفرت سره به نه راځی، په مینه راشه
د بل کوم نوی شرارت سره به نه راځی، په مینه راشه

*** *** ***

د تور ځادر او تورو شپو سره، بیا دی وطن ته راچی نشی
د تور ټوپک اود لوګو سره، بیا دی وطن ته راچی نشی
که بیا راتلی د بربادۍ سره به نه راځی، آباده راشه
زما بچو ته د قلم سره، کتاب سره او بناده راشه

*** *** ***

که بیا راتلی! نو مونږ ته جنګ او شهادت مه راوړه
لکه د نن په څیر نفرت، ویره، غربت مه راوړه
مونږ ته له ځانه سره سوله راوړه، مینه راوړه
یوه دوره خو د ژوندون، لږه حسینه راوړه!

*** *** ***

مونږ ته یو بل سره دوستي او اشنائيي را زده کړه
مونږ ته د ژوند د ښکلا ګانو موسيقي را زده کړه
مونږ ته را زده کړه محبت، یو انسانی محبت
په ښکلي ځمکه، الهی او اسمانی محبت

*** *** ***



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ازادئ راشــه، مونږ ته لاره د ژوندون پرانزه — زده کړه ورورۍ، او راته ور د پیوستون پرانزه

مونږ ته بې وخته، د مرګونو خیرې مه راښایه — د تورو شپو نه جوړې نورې، تیارې مه را ښایه

*** *** ***

مونږ ډیر اوږده کلونه، ستا په نامه اور کې تیرکړل — مونږ د میلمه په څیر، وختونه په خپل کور کې کړل تیر

مونږ په خپل کلي کې، پردیو په ګولیو و ویشتو — ګولی خو خیر خو په هجرت کې، په څپلیو و ویشتو

*** *** ***

زمونږ تاریخ د زور ورو، دحملو نه جوړ دی — زمونږ آسمان هم، د باروتو د لوګو نه جوړ دی

نـو آزادئ! که بیـا راځـې، مونږه رڼا غواړو — مونږ خپله خاوره، خپل خواږه اوبه، هوا غواړو

*** *** ***

اګست/۲/۲۰۱۹

ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا

یادونه:

که چیرې ګران لوستونکی و غواړی چې د دې شاعر او لیکوال نورې لیکنې او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندې د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالې او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!